بسم الله الرحمن الرحيم

## د روژې د مبارکۍ میاشتې د رارسېدو په اړه د ستر عالم او د حزب التحریر د امیر شیخ عطاء ابن خلیل ابو الرشته د مبارکۍ پیغام!

**(ژباړه)**

هغه غوره امت چې د بشر د لارښوونې لپاره رالېږل شوی، اسلامي امت، چې الله سبحانه وتعالی په خپل اطاعت سره هغه غوره بللی دی!

د دعوت رسوونکو ته، هغه کسان چې نه ظلم، نه هم پېر او پلور هغوی د الله سبحانه وتعالی له یاد څخه ګرځولي دي!

د پاڼو لیدونکو ته، هغه کسان چې خیر ته یې مخه کړې او دغه پاڼې له ځان سره وړي او ګوري یې!

**السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته!**

د دې مبارکې، ارزښتمندې او له اجر نه ډکې میاشتې مبارکي درته وایم، هغه میاشت چې الله سبحانه وتعالی یې په اړه فرمایلي دي:

**﴿شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِي أُنْزِلَ فِيهِ الْقُرْآنُ هُدًى لِلنَّاسِ وَبَينَاتٍ مِنَ الهُدَى وَالْفُرْقَانِ﴾**

[بقره: 185]

***ژباړه:*** *روژه هغه میاشت ده چې قران پکې نازل شوی دی، څو خلکو ته لارښوونه وکړي او د هدایت او لارښوونې نښې دي. همدارنګه په ټولو برخو کې د حق او باطل تر منځ توپیر وکړي.*

روژه هغه میاشت ده چې الله سبحانه وتعالی مسلمانانو ته پکې مغفرت کوي. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

«**مَن قَامَ رَمَضَانَ إِيمَانًا وَاحْتِسَاباً غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِه**» (بخاري له ابوهریره نه روایت کړی)

**ژباړه:** هر هغه څوک کې روژه د ایمان له دیده ونیسي، تېر ګناهونه یې ښنل کېږي!

په دې میاشت کې قران نازل شوی او همدارنګه په دې میاشت کې ښکاره فتحې او نصرتونه د مسلمانانو په برخه شوي دي. دا میاشت د عمل او کوښښ میاشت ده! د صبر، بنده ګۍ او مبارزې میاشت ده! نو اې مسلمانانو! د غیرت ملاوې وتړئ او د نېکو او غوره کارونو په ترسره کولو کې له یو بل مخکې شئ؛ ځکه په دې میاشت کې اجر او ثواب څو چنده کېږي.

له الله سبحانه وتعالی څخه غواړم چې د ټولو مسلمانانو قیام او روژه قبوله کړي او دا میاشت د راشده خلافت د تاسیس لپاره د خیر او برکت د پیل میاشت شي؛ څو اسلامي امت یو ځل بیا د "**لا إله إلا الله محمد رسول الله**" تر بیرغ لاندې ژوند پیل کړي؛ لکه د تېر په څېر. همدارنګه اسلامي امت پر الله سبحانه وتعالی او د هغه پر دین منګولې ولګوي.

**﴿وَيَوْمَئِذٍ يَفْرَحُ الْمُؤْمِنُونَ * بِنَصْرِ اللّهِ يَنْصُرُ مَنْ يَشَاءُ وَهُوَ ا لْعَزِيزُ الرَّحِيمُ﴾**

[روم: 4-5]

***ژباړه:*** *په هغه ورځ مومنان د الله سبحانه وتعالی په نصرت خوشحالېږي. الله سبحانه وتعالی له هر هغه چا سره مرسته کوي چې ویې غواړي او هغه سبحانه وتعالی ډېر مهربان دی.*

**والسلام علیکم ورحمت الله وبرکاته!**

**ستاسو ورور عطاء ابن خلیل ابوالرشته**

**۱۴۴۱ هـ.ق کال**

**۲۰۲۰ میلادي کال**